# سور تنور



لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

پیخلیک: غبرګولی/ کال ۱۴۰۶ بردی

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ketabton.com - The Digital Library



**ليکي پوهه:**

**سرليک:** سور تنور

**ليکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پښتنی ډيزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** مياشت – غبرګولی / کال ۱۴۰۶

**واتس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

**برېښناليک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ بنوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور
..................................

# لړليک

**سرليک** **چوپړی**


پخښتی....................................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحيم ....................................................... ۲
ليکي پوهه:................................................................... ۳
لړليک ........................................................................ ٤
تراڼ (پيل، شروع، بريد).................................................... ٥
د يادښتونو له پاره:.......................................................... ۷
کيسه، ناول يا داستان: ..................................................... ۸
د چاپ شويو کتابونو لېست................................................. ٥۸
د کار لاندې کتابونو لېست ................................................. ٦۳
د امکان او وخت په صورت کې.............................................. ٦٤
د پخښتی څټ ................................................................ ٦٥

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

....................................

## ترانۀ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيداينت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړی موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهی او بې وسی يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل د کوشنيانو(کوچنيانو)، تنکيو ځوا نانو له پاره ښکلی داستان (کيسه يا ناول) وليکم او د خپلو کتابونو مينه والو او لوستونکو سره يې ګډ (شريکه) کړم.

زما د کتابونو مينه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مينه وال په کې دېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.
- انځورونه د ګوګل سایټ نه د داستان مطابق اخیستل شوي دي.

Whatsapp: ٠٠٩٣٧٩٩٣٧٦٩٩٨

په درنښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

....................................

## د یادښتونو له پاره:

۱- ...........................................................................

۲- ...........................................................................

۳- ...........................................................................

۴- ...........................................................................

۵- ...........................................................................

۶- ...........................................................................

۷- ...........................................................................

۸- ...........................................................................

۹- ...........................................................................

۱۰- .........................................................................

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

...................................



**کیسه، ناول یا داستان:**

پوره اتیا کاله د مخه یوه کس د کابل ښار په اوومه سیمې (ناحیې) کې ژوند کاوه.

هغه نانوایي درلود او په نانوایي کې کار کاوه.

هغه دوې زامن او یوه لور درلوده.

د ځامنو نومونه یې ودود او غدود وو.

ودود یې مشر او غدود یې کشر و.

لور یې تر ټولو کشره وه.

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

....................................

هغوی په خورا خوشحالۍ سره ژوند کوو.

د هغه وخت مزدورۍ چندان ګټه نه درلوده، مګر ټول د ژوند څخه راضي او پر لږو یې قناعت درلود.

د نن په شان خلک حریص او وږي سترګي نه وو.

هغوي په یوې حویلۍ کې ژوند کوه او نانوایي یې هم د هغوي په کور کې شتون درلود کوم چې لویه لاره یې د کوڅې خوا ته وتلي او یوه کوشنۍ لاره یې د ننه خوا هم، درلوده.

وختونه تیرېدل او ماشومان هم لوېدل.

ودود تر ټولو شوخ او تل به یې خپل ورور او خورځورول.

د هغوی د لاسه به یې میوه او ډوډۍ تښتوه او هغوی به یې ژړول.

هغه نه یواځې په کور کې شوخي کوه بلکه د کور نه د باندې یې هم ماشومان ځورول او هر څه به یې د هغوی د لاسونو نه اخیستل او له سیمې به تښتېده او هغه به یې خوارړه.

ټول د هغه سره په تنګ وو.

د سیمې ماشومانو میندو به هغه ته ښېراوې کوې،او کله ناکله به هغوی کور ته به راتلل او د هغې مور ته به یې ګیلې او ګذارې کوې.

هغه د شیږو کلو شوو.

هره ورځ با نانوایي ته ننوت او توده ډوډۍ به یې اخیسته او خوړه، سوچ به یې نه کوه چې دا ډوډۍ د چا ده.

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

..................................



د نانوايي کارګرانو به هم ورته څه نه ويل چې پلار يې خپه نه شي بيا به هغوی له دندو وشړي.

مور يې هم د هغه سره په تنګ وه او خدای، خدای به يې کوه چې کال بل هم تېر او هغه په ښوونځي کې ګډ (شامل کړي).

کله، کله به هغه ډوډی پورې کونکي ته ويل:

ما ته په تناره کې ډوډی ښه وچه کړه چې کرپس وکړي ما ته نرمه ډوډی خوند نه را کوي.

ډوډی پورې کونکي به هم د هغه د پلار سترګو ته کتل او هغه ته به يې ډوډی په تناره کې ښه وچوه (وچه کوه) او بيا به يې هغه ته ورکوه.

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

...................................

يوه ورځ هغه نانوايي ته د ننه شو او ګوري چې ښکلي ژېړ جواري په تناره کې پورې دي.

بيا تناره ته نږدې شو.

ډوډۍ ايستونکي (نان کن) ته يې و ويل:

ژر ما ته جوارى و باسه!

هغه و ويل:

جواري تر اوسه پاخه شوي نه دي.

اوس دستي مې په تناره کې پورې کړل.

ته دلته کښېنه.

کوم وخت چې پاخه شوو، تا ته به يې وباسم.

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

.................................



هغه ډوډۍ ایستونکي (نان کن) خوا ته کښېناست او د جواریو ننداره به یې کوه.

څو دکیکي کښېناست کله به یې ډوډۍ ایستونکي (نان کن) او کله به یې تناره ته، کاته.

تر څو چې جواري پاخه شوو او هغه له تناره نه راو ویستل.

جواري یې د پارچال په سر د چنګک په مرستي کېښودل تر څو ساړه شي.

ودود منډه کړه او یوه غټ جواری یې د پارچال د سره واخیست اوځان یې د پارچال د سر نه لاند ګذار او کوځې ته یې منډه کړه.
ډوډۍ پورې کونکي هم د ډوډۍ په پورې کولو پیل کړ.

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

...................................

بله ورځ بیا نانوایي ته ننوت، ګوري چې په تناره کې ښکلې کلچې پورې شوي دي.

هغه ډوډی ایستونکي ته یې و ویل:

ژر ما ته ښکلې او سره کلچه را وباسه!

هغه و ویل:

صبر وکړه!

تر اوسه کلچې پخې نه دي.
هغه و ویل:
سمه ده!



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

...................................

ځو دکیکې تېرې شوې.

ډوډۍ ایستونکې ورته یوه ښکلې کلچه را و وېسته او هغه یې په لاس ونیوه.

کلچه ډېره سره (توده) وه.

د هغه لاس یې وسوزاوه او ژر یې بېرته و غورزوه.

ذغاله کونکې هغه ته و ویل:

صبر وکړه!

زه به درته اخبار درکړم.

په هغه یې و نیسه.

ودود و ویل:

سمه ده!

بیا ذغاله کونکې کلچه یې د اخبار په یوې څنډې کې و نیوه او ودود ته یې ورکړه.

هغه هم کلچه و نیوه او د نانوایي نه د باندې شو.

ځو ورځې تېرې شوې.

هغه و غوښتل چې په تناره کې ډوډۍ پورې کول زده کړي.

بیا یې ډوډۍ پورې کونکې ته و ویل:

ماته ډوډۍ پورې کول زده کړه.

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................

هغه و ویل:

ته دي کارو ته اړ تیا نه لرې.

ته اوس شپږ کلن یې.

کال ته به ښوونځي ته لاړ شې.

څه یې کوې.

هسې نانوایي ستاسو دی.

هغه و ویل:

ستونزه نه شته!

کسب هم ښه شی دی.

بیا ډوډۍ پورې کونکي و ویل:

ته ډېر وخت لري.

تلوار(عجله) مه کوه.

ودود و ویل:

نه!

زه به نن ډوډۍ پورې کول زده کوم.

ډوډۍ پورې کونکي و ویل:

د ډوډۍ پخلو په پای کې به تا ته چل دروښیم.

ketabton.com - The Digital Library

# سور تنور

..................................



ودود و ویل:

سمه ده!

بیا ډوډۍ خلاصې او یوه ذغاله یې ودود له پاره پرېښوده.

بیا یې ودود ته و ویل:

نږدې کښېنه او وګوره چې ډوډۍ څه رنګه پورې کېږي.

بیا یې ودود ته و ویل:

دا ده!

ذغاله واخله!

اوس یې پورې کړه!

هغه تناره ته نږدې کښېناست.

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................

ډوډۍ يې پورې کړه.

د ډوډۍ يوه څنډه تناره نه بېرته (جلا) شوه او داسې ګمان کېده چې په تناره کې به وغورځي.

ډوډۍ ايستونکي و ويل:

ژر شه!

چنګک او تراشک واخله او ډوډۍ پرې بيرته و نښلوه.

هغه چنګک او تراشک واخيست او ډوډۍ يې بېرته په تناره کې کلکه کړه.



ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

...................................

بله ورځ يې بيا بله ډوډۍ پورې کړه.

او ورو، ورو د ډوډۍ په پورې کولو کې عادت شو.

بيا يې د ډوډۍ اپستونکې ته و ويل:

ما ته د ډوډۍ ايستلو چل را ياد کړه.

هغه و ويل:

ځه!

د دې کار نه تېر شه!

دا کار تا ته کومه ګټه نه رسوي.

ښوونځی د ې و وايه اوداکټر يا انجينر شه.
هم به ځان او هم به هېواد ته، خدمت او ګټه ورسوې.



ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

..................................

هغه و نه منه!

بیا یې ډوډۍ ایستونکي ته و ویل:

دا کار به ماته، هرو مرو راښیې.

هغه و ویل:

سمه ده!

چنګک واخله او هغه آخره ډوډۍ و باسه.

ودود تناره غاړې ته کښېناست.

چنګک یې واخیست او سر یې تناره کې، کوز کړ.



په دې وخت کې د هغه پر سترګو تیاره راغله او د ننه تنور ته ولوېد.

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................

ټولو چغې کړې.

ډوډۍ ایستونکي سر تناره ته د ننه او هغه یې د لاس نه و نیوه او د تناره یې و باسه.

ژر، ژر یې پرې اوبه واچوې.

د هغه مخ سوی او خوړین، پړین و.

کالي یې هم سوزېدلي وو.

ژر یې پلار هم، ورسېد.

هغه یې په غېږ کې واخیست.

په منډو، منډو یې د نانواي نه و باسه او مخ پر کلینک د نورو کسانو سره روان شوو.

په هغه وخت کې ډېرو لږو کسانو موټر درلود.

په کوڅو کې ښاري موټر او ټکسي نه وو.

لاس ګاډي هم نه وو.

یوازې په پښو مزل و.

هغه ډېر وېرېدلی او په لاره کې یې چغې وهې.

څند وروسته کلینیک ته ورسېدل.

الته ننوتل:

ودود یې د عاجلې خانګې پر کټ واچوه.

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

..................................

داکترانو د هرې خواوو نه منډې کړې.

بیا یې نرسانو ته غږ کړ.

ژر د سوزېدلو کسانو دوایې راوړئ.

هغوی دوایې راوړه.

داکترانو د هغه پر سوزېدلي مخ، لاسونو او پښو دوا و وهه.

بیا یې امبولانس و غوښت او روغتون ته یې واستاوه.

هغه درې میاشتې په روغتون کې بستر و.

د هغه مور، پلار، خپلوان او نانوایي کاریګران به یې هره ورځ د هغه پوښتنې ته تلل.

د هغه مخ ډېر سوزېدلی و خو سترګې یې روغې پاتې وې.

په څلورمه میاشت هغه د روغتون نه رخصت او کورته لاړ.

څو ورځې به له کوره نه راوت.

یوه اونۍ وروسته هغه کوڅې ته و وت.

پېژندل یې ګران وو.

مخ او د سر ویښتان یې هم سوزېدلی وو.

هغه به هر ماشوم ته نارې وهې او ویل به یې:

زه ودود یم.

ما شومان به راتلل اوپر هغه به یې خندل.

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

...................................

چا نه غوښتل د هغه سره لوبې وکړي.

ځینو نورو شوخوو ماشومانو هغه ته یې ودود نه بلکه سوخته ویل.

هغه په سمې کې په ودود سوخته مشهور شو.

هغه هرورځ مازیګر نانوایي ته، ته.

التـه به یې د ډوډۍ پورې کولو او لرې کولو غوښتنه کوه.

مګر هیچا به هغه ته د ډوډۍ پورې کولو او لرې کول اجازه نه ورکوه او حتا(حتی) تر دې چې هغه به یې تناره ته نږدې هم نه پرېښود.

ټول ډار شوي وو چې بیا به په تناره کې و غورځېږي.

ژمی تېر او پسرلی ورسېد.

هغه اووه کلن شو.

پلار یې هغه نږدې ښوونځي ته بو ته.

هغه یې په ښوونځي کې ګډ (شامل کړ).

ښوونځی هم لرې و.

هغه به د نورو کلیوالو سره ښوونځي ته، ته او راته.

په لاره کې به خلکو هغه ته سوخته ویل.

هغه به ډېر زورېده.

مګر چا ته یې څه نه ویل.

هغه په خپله تناره کې غورځېدلي و.

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

...................................

نو ځکه په خپله يې ملامت و.

ځو کالونه تېر شوو.

پلار يې سپين ګيرى شو.

ودود دولس کلن شو.

ورور او خور يې هم په ښوونځي کې ګډ او د ښوونځي پر تګ او راتګ يې پيل کړ.

يوه ورځ هغه خپل پلار ته و ويل:

په تناره کې غورځېدل زما ګناه نه وه، ګنا د تناره جوړونکي وه چې د تنور خوله يې لويه جوړه کړې وه.

ښه به دا وي چې زه د تنورونو جوړونکو کارونه و وينم.

پلار يې و ويل:

سمه ده!

يوه ورځ به الته لاړ شوو او وګورو تر ځو هغوى څرنګه تنورونه جوړوي.

پلار يې و ويل:

سمه ده!

يوه ورځ به لاړ شوو.

بيا ودود وپوښتل:

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

..................................

څه وخت؟

پلار یې و ویل:

د جمعې په ورځ چې رخصتي وي.

هغه و ویل:

سمه ده!

جمعه شوه.

هغه د خپل پلار سره د تنورونو ځای چې ښهر آرا په کوڅې کې وو، لاړل.

هغه د تنورونو د جوړونې په لیدو، پیل کړ.



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

...................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

.................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



هغه د تنورونو نه ليدنه و کړه او يې ويل:

دا تنورونه سم دي.

زمونږ تنور ولې خراب دی.

بيا يې پلار ته و ويل:

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

...................................

راځه د دې سیمې څو تنورو نه لیدنه وکړو کوم چې په نانواییو کې دي.

پلار یې و ویل:

سمه ده!

راځه چې وګرځو.

بیا دواړو په لیدنې پیل کړ.



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................





ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................





ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

...................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

..................................



هغوي د سيمي ټولو تنورونو نه کوم چې په نانواييو کې شتون درلود ليدنه وکړه.

بيا يوه کس و ويل:

زمونږ په سيمي کې بل ډول تنورونه هم شتون لري.

هغه تنورونه دومره خطرناکه نه دي چې کس په کې و غورځي.

هر کس کولای شي په هغه کې ډوډی پورې او وباسي.

د ودود پلار و ويل:

هغه تنور چيرته دی؟

کس و ويل:

ډير نږدې دی.

بيا د ودود پلار و ويل:

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

...................................

کولای شوه هغه تنور و وینو؟

کس و ویل:

هو!

کومه ستونزه نه شته.

بیا د ودود پلار و ویل:

ته وخت لرې چې زمونږ سره لاړ او مونږ ته یې وښیې؟

کس و ویل:

هو!

درځه چې ځوو.

کس مخکې د ودود پلار وریسې او ودود آخر ته د هغوی پسې روان شوو.

سیمې ته ورسېدل.

بیا کس نانوایي ته ننوت.

سلام یې ورکړ.

بیا یې و ویل:

کولای شوو د ننه راشو؟

ډوډۍ پخونکي و ویل:

هو!

ketabton.com - The Digital Library



راشئ.

بیا ټول نانوایي ته د ننه شوو.

د ډوډۍ پخونې سیل یې وکړ.

بیا ودود خپل پلار ته و ویل:

داسې تنور جوړ او زه کولای شم په هغه کې ډوډۍ پخې کړم.

پلار یې د ډوډۍ پخونکي نه پوښتنه وکړه!

دا رکم (رقم) تنورونه چېرته خرڅیږي؟

هغه و ویل:

دې تنورونو ته، ازبکي تنور وايي.

دلته یوه کس دی.

هغه د مزار شریف نه راغلي او دا سې تنورونو په جوړولو کې خورا چابک او تجربه لري.

په دې وخت کې د ودود پلار و ویل:

هغه به څرنګه پیدا کړو؟

ډوډۍ پخونکي خپل زوی ته غږ کړ:

زوی یې نږدې او پلار ته یې و ویل:

څه دې ویل:

پلار یې و ویل:

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

..................................

هو!

د ودود پلار سره لاړ او د دي تنور جوړونکي ياني جوره بېګ کور
ورته وښيه.

زوی يې و ويل:

سمه ده!

بيا هغوی د جوره بېګ کور خوا ته روان شوو.

په لاره کې جوره بېګ يې مخې ته راغی چې د داش ډودی يې په
لاس او کورته ، روان و.

هغوی جوره بېګ ته نږدې او روغبړ يې وکاوه.

بيا د ډوډۍ پخونکي زوي هغه او دهغه زوی يې جوره بېګ ته ور
وپيژاند.



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................

جوره بېک و ویل:

تاسو غواړئ چې ازبکي تنور ولرئ؟

د ودود پلار و ویل:

هو!

زما زوی د تناره سره مینه لري او وایي چې د ښوونځي نه وروسته په هغه کې کار کوي.

بیا جوره بېک وپوښتل:

د ودود مخ او سر یې ولې؟

پلار یې و ویل:

دا په تناره کې ولېدلی و.

هسې خدای وساته، که نه اوس به یې اډوکي هم خاورې شوي وو.

بیا جوره بېک و ویل:

د خدای شکر دی.

ښه ده چې سترګې یې نه دي سوزېدلي.

پلار یې و ویل:

هو!

د خدای رحم و.

بیا جوره بېک و ویل:

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

...................................

ستا زوی له پاره تر دې هم یوه ښه تنور چې خلک ورته داش وایي، جوړ کړم.

په هغه کې د راشپیل نه ګټه اخیستل کیږي.

ښه به وي چه هغه ته داش جوړ کړې.

بیا یې زیاته کړه.

دا ډوډۍ وګوره، د داش ډوډۍ ده.

د ودود پلار و ویل:

هو!

په رښتیا هم ښه ډوډۍ ده.

بیا د ودود پلار و ویل:

کولای شو داش و وینو؟

جوره بېک و ویل:

هو!

هغه ډېر نږدې دی.

د ودو پلار و ویل:

ځه چې ځو.

جوره بېک مخکې او نور، ور پسې شوو.

په دې وخت کې د نانوايي ډوډۍ پخونکي زوی و ویل:

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

...................................

کولای شم چې زه لاړ شم.

البته کارونه ډېر دي.

د ودود پلار و ویل:

هو !

ته کولای شې بېرته لاړ شې.

زحمتونه دي وبښه.

بیا هغه و ویل:

څه زحمت؟

یوه کوشنۍ مرسته وه.

بیا یې د ودود پلار، زوی او جوره بېګ نه خدای پاماني واخیسته، او بېرته خپل نانوایي ته لاړ.

هغوی ټول داش ته لاړل او د داش د ډوډۍ پخوني، اور اچوني نه یې لیدنه وکړه.

د ودود او هغه د پلار داش ډوډۍ پخوني نه ډېر خوشحاله شوو.

بیا یې جوره بېګ ته و ویل:

داش زمونږ خوښ شوو.

مونږ ته هم داش جوړ کړه.

هغه ومنه.

ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

..................................





ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................



ketabton.com - The Digital Library

## سور تنور

...................................



د ودود پلار جوره بېګ ته، خپل د کور پته ورکړه.

بیا جوره بیګ هغه ته و ویل:

سبا به زه راشم او ځای به وګورم .

بیا يې خدای پاماني واخیسته او هرکس خپلې مخې پسې روان شوو.

ورځ تېره شوه.

شپه شوه.

بیا سبا شو.

جوره بېګ د وعدې سره سم الته لاړ او سیمه يې ولیده.

بیا يې هغه ته د موادو لیسټ ورکړ تر څویې وپېري.

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور
..................................

د ودود پلار د لیسټ سره سم مواد واخیستل او جوره بېګ ته یې خبر ورکړ.

جوره بېګ د ودود پلار کور ته راغی او په دوې ورځو کې یې داش جوړ کړ.

بیا یې د ودود پلار ته و ویل:

اوس داش لوند دی.

یوه اونۍ ورته صبر وکړه.

اونۍ وروسته به یې تود او پر ډوډۍ پخولو به پیل کړي.

اونۍ تېره شوه.

د ودود پلار داش تود او پر ډوډۍ پخولو یې پیل کړ.

په داش کې به یواځې د ودود پلار، ښځې او ودود کار کوه.

البته به یې یواځې د خلکو او په نانوایي کې به یې د پلور له پاره ډوډۍ پخوې.

کلونه تېر شوو.

ودود ښوونځی پرېښود.

په داش کې به یې کار کوه.

د ودو پلار وفات شوی مګر ودود اوس هم ژوندی او ډېر سپین ګیری شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

...................................

هغه په داش کې کار نه کوی، مګر زامن او لمسیان یې په کې کار کوې او حلاله روزي ګټي.

**پای**

ketabton.com - The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لیست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

ketabton.com - The Digital Library



...................................

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچين (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خيرالله مخدوم

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

.................................

(جلد اول)

۳۹. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادي (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

.................................

٦٠. د يوې مياشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاخکو هار (د يوه سړی لنډې کيسې)
٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانيو جوماتونو توپير د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غريبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [ديارلس کلنه فلسطينۍ انجلۍ تر نړېدلې ودانۍ (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتې / چوب ادبی
٨١. د ښاروالۍ کاريګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عينک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زير خاک (نزديک معدن مس عينک)

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

...................................


٨٤. ساختمان های کانتینری
٨٥. کانتینري ودانۍ
٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
٨٨. خړه بیزو(پښتو کیسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)

ketabton.com - The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

١. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
٢. هنر کلالی در مرادخانی
٣. لیونی لېوه
٤. سپین کارغه
٥. بندي مرغه
٦. بې وخته باران
٧. د ژوند پای

ketabton.com - The Digital Library

سور تنور

..................................

## د امکان او وخت په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

*ketabton.com - The Digital Library*

# Hot oven

**Written by:** Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Date:** June - July /2027

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*